مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۹/۱۹

# په استقلال پورې اړوند څو ارزښتمن مفاهیم

## (څلورمه برخه)

په دغه مقاله کې به، له ۱۷۴۷ میلادی کال نه بیا د ۲۰۲۰ میلادی کال تر ننه پورې له استقلال سره تړلي دغو ارزښتمنو مفاهیمو او ځینو تاریخي پیښو او حوادثو باندې رڼا واچول شي:

- **افغانستان د یو هیواد په توګه،**
- **په افغانستان کې استعماري سیاستونه،**
- **پر افغانستان باندې بهرني استعماري یرغلونه،**
- **استقلال،**
- **د هیواد اصیل ملي قهرمانان او په نوم ملي قهرمانان او مارشالان،**
- **د افغان دولت او طالبانو تر منځ په روانه سوله کې د امریکا لوبې.**

### پر افغانستان باندې د امریکا یرغل:

د ۲۰۰۱ میلادی کال د اکتوبر پر ۷ مه نیټه چې د ۱۳۸۰ هجری شمسی کال د میزان د ۱۵ می نیټې سره سمون لري د امریکا پر مشرئ د ناټو غړو د۴۹ هیوادونو عسکرو د ب ـ ۵۲ الوتکو پر مټ پر افغانستان یرغل وکړ او د طالبانو رژیم یې نسکور کړ. ظاهراً امریکا له «ترهګرۍ» سره د مبارزې، د مخدره توکو له منځه وړل، ښې حکومت دارۍ او د ښځو د حقوقو د اعادې تر عنوان لاندې د خپل یرغل د مشروعیت له پاره تبلیغ کاوه او په ډېر غرور یې اعلان وکړ چې طالبان له منځه ولاړل او بیا به هیڅکله سر راپورته نه کړي.

امریکایانو د خپل یرغل د مشروعیت له پاره د جمعیت له شورای نظار سره د یرغل وروسته د فهیم، محمد یونس قانونی او عبد الله عبدالله سره یوه تړون امضا کړ چې په لاندې توګه دلته وړاندې کیږي.
نن ټکی اسیا د ۲۰۲۰ کال د جون ۲۰مه نیټه ډاکټر هاتف مختار.

### د امریکایانو او شمالي ټلوالې تر مینځ د یرغل وروسته تړون: ( جنوری ۲۰۰۲)

هیواد والو او ټولو نړیوالو ته جوته ده چې د اسلامی جمعیت د شورای نظار ډلې د خپل شخصي او ګروپي قدرت د تحکیم له پاره په یو ستر اوتاریخي نه بښونکي جنایت لاس پورې کړ، لکه د یعقوب خان د ګندمک ، شاه شجاع او انګریزانو، ببرک کارمل او شورویانو، برهان الدین ربانی او پاکستانیانو او داسې نورو هیواد پلورونکو په شان یې د هیواد د خرڅلاو ننګین تړون له یرغلګر امریکا سره امضا کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه هیواد پلورونکي ټرون چي  د افسانوی ستر جنرال فهیم د رباني د حکومت د جمهور رئیس د مرستیال، عبدالله عبدالله د بهرنیو چاروزیر اومحمدیونس قانوني د کورنیو چارو وزیرله خوا د امریکائی چاراوکو سره لاس لیک شو، د ټولو بین المللي موازینو خلاف امریکائی قوواو، سیاسي دپلوماتیکو کارکونکو، اجیرانو او د دوي قراردادیانو ته دومره امتیازات ورکړل شول، چي خپله افغانان  یي په خپل ملک کي نه شي تر لاسه کولای.

ـ په قرارداد کي امریکائی اتباع او امریکا پوري اړوند نظامي، سیاسي، قراردادیانو اجیران بی له کنترول او ګرویژنو هیواد ته داخلیدی او وتلی شي.

ـ د افغانستان په هر سیمه کي امریکایان کولای شي نظامي اډی جوړي کړي لازمه اراضی کولای شي د دوي په اختیار کي ووسي او د وتلو په صورت کي د ساختمان او تآ سیساتو اختیار به هم د امریکایانو په لاس کي وي، چي تخریبوي یي او یا یي بیرته له ځانه سره وړي او یا یي کوم بل هیواد ته ورکوي ،لکه چي ولیدل شوول امریکا د خپلو قوواو د ویستلو په وخت کي خورا ډیر نظامي توکي افغانستان ته پری نښوول بلکه پاکستان هیواد ته یي ورکړل.

- امریکائی نظامي الوتکي د افغانستان له هرې سیمي نه بی له کنترول وتلي او را ننوتلي شي.چي د همدې قرارداد له مخي د هلمند له ولایت نه یورانیم او له نورو سیمو نه د میلیونونو ډالرو په بیه قیمتي ډبرې او مخدره توکي ویستل کیږي.

ـ دامریکائی چاراوکو، نظامي کارکونکو، سرتیرو د جرمونو او قانوني سرغړونونه پوښتني ګرویژني یا محمکه د افغانستان د محاکمو حق نه دي او په امریکا کي به د دوي محکمه تر سره کیږي.
باید وویل شي داسي نور ډیرمهم مسائل شته چي امریکایانو ته یي بشپړ واک ورکړي دي، چي د افغاني او بین المللي او د بشري حقوقو د قوانینو سره په ټکرکي وو او دي.

انګیزانو روسانو او امریکایانو،غربیانو د خپلو ستراتیژیکو موخو د عملي کولو له پاره زموږ په هیواد کي له لاندي فورمولونو نه ګټی پورته کړي  دي او کوي یي

۱ ــ دمتعددو سیاسي ګوندونو جوړول او بیا حتا په هر ګوند کي فرکسونونه رامنځ ته کول او یو فرکسون ځانته نږدی ساتل. د همدې ګوندونو تر منځ د اختلاف اور ته لمن وهل.

۳- د اقلیتونو غیر عادلانه او غیر قانونمندانه حمایت، را پورته کول او تشویق د دغو ملیتونو د اصلي استازو له لارې نه، بلکه د اخستل شوو او خرخ شوو ګوډاګیانو له لارې ترڅو پرې اکثریت وټکوي کمزوری یي کړي ، ملي یووالي ګواښمن کړي او خپلی موخي تر سره کړي. اقلیتونه پر دی باید پوه شي چي د اکثریت ټکول کمزوری کول نه د دوي په ګټه دي او نه د هیواد، بلکه د هیواد د دښمنانو ژرندي ته اوبه ورکول دي.

۴- قومي تعصبونو ته لمن وهل، پښتون، تاجک، هزاره،ازبک، او داسي نور ملیتونه یو د بل پر ضد را پارول، په دغو قومي جوړښتونو کي مافیایي کړي جوړول، تقویه کول او د فقر، بی وزلی، بی وسی او بي سوادئ په نتیجه کي د دغو  هسي په نوم مشرانو تر تاثیرلاندي ولس راوستل.

۵- د څو تنو محدودو زورواکو،مادي او معنوي حمایت د څمکو او عامه  شتمنیو، کانونو غصبول او ولس وږی ټږی او بي وسه ساتل .

۶- رشوت ،چورچپاول، اداري فساد او د نورو منفي پدیدو تشویق او حمایت د ځوان نسل د کار او زدکړو مخنیوی تر څو د دښمن لیکو ته ودانګي او یا له هیواده فرار ته مجبور شي یا مخدره توکه ته مخ کړي.

۷- ضعیف او ګوډاګي حکمتونه جوړول، ساتل او په داخلي ستونزو اخته کول.

۸- د هیواد د مسلحو قوواو پاشل، ضعیفول او له منځه وړل، هوایي ځواک حذفول اوپر ځای یي تنظیمي، ګروپي او غیر مسلکي قوت جوړول چي هر لحظه یي هیواد او ملي وحدت له ستونزو او ګواښنو سره مخ کړي وي.

۹- د  سیاسي، ملي قوتونو او ملي شخصیتونو د یووالي مخنیوې او د پراخ تبلیغاتي چینلولو او مافیا یي رسنیو له لارې د بی بنیاده تهدیدونو او تورونو له لارې د داسي حرکتونو مخنیوی ، تهدید او داسي نور سل ګونه بیلګي شته چي امریکایان او ورسره نړیوال ستراتیژیک ملګري یي  په ګران هیواد افغانستان کي د خپل دوامداره شتون په خاطر تر سره کوي او قرباني یي زموږ هیواد او هیواد وال ورکوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

زما له انده امریکا دری مهمي او اساسي موخي دلته په سیمه کي لری، چي غواړي په دوامداره توګه دلته پاتي شي.او د دغو موخو د کابو کولو له پاره ورته د افغانستان ستراتیژیک مو قیعیت د اهمیت وړ دي:

۱- په منځنۍ اسیا کي د هغه هیوادو چي د شوروی اتحاد نه يي ازادي تر لاسه کړي د خپل د نفوذ لاندې راوستل او یا نارامه کول او د هغوي له لارې روسیه تهدیدول او د سیاسي، نظامي او اقتصادي زواک مخه يي ډب کول.

۲- د شانکهای غړو هیوادو د اقتصادي اتحاد تر څنګ د نظامي تړون نه هیره چي مبادا دغه هیوادونه چي ځنی يي اتومي ځواک هم لری سره په یوه ستر منطقوي ځواک بدل نه شی او تر څنګ يي د چین، هندوستان، روسي او ایران نه د وي ته د تهدید ویره.

۳- د ایران د نظامي او اتومي قدرت د لوړیدو مخنیوی او د پاکستان اتومي سلاح نوره هم له نږدی نه تر څارني لاندې راوستل.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ